مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۷٦** (از ۲٦ عقرب الی ۳ قوس ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

### د افغان سولې په اړه وروستي پرمختګونه او شته هيلې

د خلیلزاد ماموریت ........ ۴

د افغان سولې په اړه شته هیلې ........ ۵

د سولې د احتمالي ترون پر وړاندې شته ننګوني ........ ٦

### نگاهی به اختلافات داخلی در دورهٔ رئیس جمهور غنی

اختلافات سران حکومت وحدت ملی ........ ۹

اختلافات ولسی جرگه با حکومت ........ ۱۰

عوامل عمدهٔ اختلافات داخلی ........ ۱۱

## مقدمه

له طالبانو سره د سولې د مخامخ خبرو اترو لپاره د امریکا چمتو کېدلو او په قطر کې د دغې ډلې د سیاسي دفتر له غږو سره د امریکایي چارواکو مخامخ لیدنو په افغانستان کې د سولې د پروسې بریا ته نوې هیلې راټوکولې دي. دا هیلې په کابل کې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له وروستیو څرګندونو وروسته لا زیاتې شوې دي؛ ځکه نوموړي په خپلو وروستیو خبرو کې د دغې پروسې د بریا لپاره هیلهمندي ښودلې ده.

که څه هم له سولهییزې لارې د افغانستان د روانې ۱۷ کلنې خونړۍ جګړې د پای ته رسولو په موخه د متحده ایالاتو وروستیو ګامونو او له طالبانو سره په خبرو اترو کې پرمختګ افغانان د دغه بهیر بریالي کېدو ته هیلهمن کړي دي؛ خو له دغو هیلو سره سره، یو شمېر داسې ننګونې هم شته دي، چې که له مخې لرې نه شي، ښایي د سولې روانې خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ کړي. دا چې وروستیو هلو ځلو او پرمختګونو ته څومره هیلې شته دي او په ټوله کې دا پروسه له کومو ننګونو سره مخ ښکاري، هغه موضوعات دي چې د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې پرې شننه لولئ.

د اوونۍ تحلیل په دویمه برخه کې د ولسمشر غني په دوره کې د ملي یووالي حکومت په داخلي اختلافاتو بحث شوی دی. د ملي یووالي حکومت پر وړاندې په تېرو څه باندې څلورو کلونو کې یوه ستره ننګونه، د حکومتي چارواکو ترمنځ د واک پر وېش او ځینو نورو مسایلو ژور او دوامدار اختلافات موجود وو. دغو اختلافونو ډېری مهال د هېواد سیاسي وضعیت د بېثباتۍ له خطر سره هم مخ کړی و او د نظام پر نورو برخو یې هم خپل منفي سیوری غوړولی دی. دا چې د ولسمشر غني په څلور کلنه دوره کې کوم مهم داخلي اختلافات موجود وو او د دغو اختلافاتو مهم عوامل څه وو، د تحلیل په دې برخه کې ورته کتنه شوې ده.

# د افغان سولې په اړه وروستي پرمختګونه او شته هيلې



په مسکو کې د افغان سولې په اړه له وروستی غونډې را وروسته، د افغانستان د سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي، د افغانستان په ګډون د سيمې ځينې هېوادونو ته يو ځل بيا سفر وکړ. په دغه سفر کې نوموړي په قطر کې له طالب چارواکو سره د دويم ځل لپاره‌و کتل.

خليلزاد قطر ته له سفر وروسته بېرته کابل ته راستون شو او تېره اوونۍ يې په کابل کې خبريالانو ته وويل، چې په افغانستان کې د سولې لپاره د افغان حکومت او طالبانو په ګډون له ټولو ښکېلو لورو سره په خبرو بوخت دی، خو تراوسه د کوم مهم پرمختګ اعلان نه شي کولی. نوموړي ډاډ ورکړ، چې له طالبانو سره د سولې هوکړې ته هيله‌من دی.

په افغانستان کې د روانې ۱۷ کلنې جګړې د پای رسولو لپاره د خليلزاد نوی ماموريت، په دغه هېواد کې د سولې ټينګښت ته شته هيلې او دا چې د افغان سولې پر وړاندې لا هم کومې ننګونې موجودې دي؟ هغه موضوعات دي چې دلته يې په اړه بحث شوی دی.

## د خلیلزاد ماموریت

امریکا په افغانستان کې له ۱۷ کاله خونړۍ جګړې وروسته بالآخره دې پایلې ته ورسېده، چې د نظامي فشارونو له لارې افغان جګړه نه شي ګټلی او په افغانستان کې د دوی روانه جګړه له بن‌بست سره مخ ده. همدا لامل دی، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې یې له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو لار غوره کړې ده.

امریکا په همدې موخه، شاوخوا دوه میاشتې وړاندې زلمی خلیلزاد - چې یو افغاني الاصله امریکایي سیاست‌مدار دی او نوموړی د افغاني کلتور، ټولنیز ژوند، ژبو او سیاست په باب پوره معلومات لري او هم د افغانستان په تړاو له څلورو امریکایي ادارو سره د کار کولو او سلا مشورو په برخه کې د پام وړ تجربه لري ـ د افغانستان د سولې بهیر د رهبري کولو لپاره وټاکه؛ تر څو له طالبانو سره د روغې جوړې په اړه د خبرو اترو او یوې هوکړې ته د رسېدو په موخه هڅې وکړي.

خلیلزاد د خپل نوي ماموریت پیل د افغان سولې په تړاو د همغږۍ رامنځته کولو په موخه، د افغانستان په ګډون پنځو هېوادونو (افغانستان، پاکستان، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او قطر) ته په لس ورځني سفر سره وکړ.

نوموړي په دې لړ کې لومړی افغانستان ته د سفر پر مهال له افغان ولسمشر او اجرائیه رئیس سره پر کتلو سربېره، له یو شمېر افغان سیاستوالو او جهادي مشرانو سره هم جلا جلا وکتل. دغه‌راز نوموړی له کابل وروسته پاکستان ته ولاړ او په اسلام‌آباد کې یې له پاکستاني چارواکو سره د افغان سولې په اړه د خبرو ترڅنګ، له دوی څخه د افغان سولې په برخه کې د همکارۍ غوښتنه هم وکړه. پر پاکستان سربېره زلمي خلیلزاد سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو او قطر ته هم سفرونه وکړل.

د دغو هڅو په پایله کې په قطر کې د طالب چارواکو او امریکایي استازو ترمنځ مخامخ خبرې وشوې او دغو خبرو د افغان سولې په اړه له خلکو سره نوې هیلې پیدا کړې. ځکه د همدغو خبرو په پایله کې د طالبانو ځېنې مهم چارواکي په پاکستان کې له‌زندانه خوشې کړای شول. دغه‌راز هغه پنځه طالب چاوراکي هم، چې څو کاله وړاندې له ګوانتامو زندان څخه را خوشې شوي وو، په قطر کې د طالبانو له سیاسي دفتر سره یو ځای شول، تر څو د سولې په خبرو کې ونډه واخلي.

خلیلزاد له دغه سفر وروسته یو ځل بیا د افغانستان په ګډون د سیمې هېوادونو ته خپل دویم سفر هم وکړ او تېره اوونۍ یې په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې له طالبانو سره د سولې د خبرو بریا ته هیله‌من دی. د ځینو غربي رسنیو د راپورو پر بنسټ، داسې ګنګوسې هم شته چې طالبانو له خلیلزاد سره په ځینې مسایلو، لکه د بهرنیو ځواکونو حضور، د امریکایانو د وتلو مهال ویش، له زندانونو د طالب چارواکو خوشې کول، اوربند او لنډمهاله اداري رامنځته کولو باندې هم خبرې اترې کړې دي.

## د افغان سولې په اړه شته هیلې

په افغانستان کې د روانې جګړې د پای رسولو په موخه له ۱۷ کاله جګړې را وروسته په لومړي ځل امریکا دې ته چمتو شوه چې له طالبانو سره د روانې جګړې د پای رسولو په موخه مخامخ خبرې وکړي او د دغه ماموریت لپاره یې یو افغاني الاصله امریکایي سیاستوال د خپل ځانګړي استازي په توګه وګوماره، دا په افغانستان کې د سولې راتلو او روانې جګړې د پای ته رسېدو لپاره تر ټولو مهم او هیله‌بښونکی ګام ګڼل کېږي.

په بل اړخ کې د افغان سولې په اړه د جګړې د ښکېلو لورو ترمنځ د باور رامنځته کېدو وروستي پرمختګونه هم هیله‌بښونکي دي. په دې برخه کې هم د خلیلزاد د ماموریت په لومړیو کې د پاکستان له زندانونو څخه د دریو طالب چارواکو خوشې کېدل، دغه‌راز په قطر کې د طالبانو له سیاسي دفتر سره له ګواتنامو زندان څخه د خوشې شوو طالب چارواکو یو ځای کېدل هغه موارد دي، چې د سولې د روانو خبرو د بریا په اړه یې هیلې را پیدا کړې دي.

پر دې سربېره د طالبانو له لوري له امریکا سره د خبرو په اړه خوشبیني او د خبرو د دوام غوښتنه هم هغه ټکی دی، چې د سولې د خبرو د بریا لپاره هیلې له ځان سره لري. دغه‌راز د سیاسي او جهادي ګوندونو له مشرانو سره د خلیلزاد لیدنې او د طالبانو دغه وینا چې دوی له افغان حکومت سره نه، بلکې له سیاسي ګوندونو سره خبرې کول غواړي، هم هغه ټکی بلل کېږي، چې سولې ته د رسېدو هیلې زېږوي.

د مسکو په غونډه کې طالبانو وویل، که بهرنیاون ووځي، نو دوی به له افغانانو سره هیڅ ډول ستونزه ونه لري او ټولې کورنۍ ستونزې به د خبرو له لارې حل کړي. دا هغه قضیه ده چې د بین‌الافغاني تفاهم لپاره هیلې ټوکوي او له همدې کبله تمه کېږي، چې چې طالبان په کور دننه له نورو افغاني لورو سره د خبرو له لارې هوکړې ته رسیږي.

له دې ټولو ورهاخوا، په کابل کې خبریالانو ته د زلمي خلیلزاد دا وینا چې له طالبانو سره د سولې د خبرو بریا ته هیله‌من دی، خپله یو شین څراغ دی او سولې د رسېدو په موخه د افغانو هیلې لا زیاتوي. دغه راز په امریکا کې د ټرمپ د ولسمشرۍ لومړۍ دوره ورو ورو مخ پر پای ته رسېدو ده. داسې تحلیلونه شته دي، چې نوموړی به هڅه وکړي راتلونکې دورې ته د بریا په موخه په افغانستان د امریکا روانه جګړه چې د دې هېواد تر ټولو اوږده بهرنۍ جګړه بلل کیږي، پای ته ورسوي.

## د سولې د احتمالي ترون پر وړاندې شته ننګونې

که څه هم په ورستیو څو میاشتو کې د افغان سولې په اړه هڅې تر بل هر وخت زیاتې شوې دي او ډېرې هیلې شته چې طالبانو سره به د سولې خبرې یوې مثبتې پایلې ته ورسېږي؛ خو د خبرو د دې پروسې په اړه لا هم ځینې ننګونې شته چې مهمې یې لاندې کښلی شو:

**لومړی:** له طالبانو سره د سولې خبرې په اوس مهال کې د زلمي خلیلزاد مهم ماموریت دی. په دغه ماموریت کې د خلیلزاد بریا د افغان سولې بریا ده. په دغو خبرو کې د اندېښنې ټکی دا دی، چې امریکا به د طالبانو تر ټولو مهمه غوښتنه (له افغانستانه د بهرنیانو وتل) په څه ډول مني، آیا بهرني ځواکونه به  له افغانستانه ووځي او که طالبان به له امریکا سره د بهرنیو ځواکونو د حضور په اړه کومې هوکړې ته ورسېږي؟ که څه هم داسې ګنګوسې هم شته چې امریکا او طالبانو د اډو په اړه خبرې کړې دي او ښایي طالبان په دې اړه له امریکا سره یوه توافق ته ورسېږي.

**دویم:** د روانو خبرو په اړه یوه بله ننګونه، په دغو خبرو کې د افغان حکومت ځای او دریځ دی. د طالبانو یو شرط دا دی چې له افغان حکومت سره خبرې نه کوي او امریکا هم له همدې امله خپله د خبرو لپاره رامخته شوه؛ خو په بل اړخ کې افغان حکومت تل په بین‌الافغاني خبرو ټینګار کړی او نه غواړي چې په دې برخه کې ګوښه ته شي. په همدې موخه ارګ هڅې پیل کړې دي چې د افغان سولې پروسې په اړه د «سولې د مشورتي بورډ» په نوم یوه ډله رامنځته کړي چې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو د سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو، د ښځو د ټولنو او ولسي شوراګانو استازي به په‌کې شامل وي. د دغه بورډ جوړول له یوې خوا د سولې عالي شورا موجودیت تر پوښتنې لاندې راولي او له بلې خوا د دا ډول بورډونو جوړول یوازې د سولې عالي شورا د ناکامې تجربې بیا تکرار او په روانو خبرو کې د ځنډ او خنډ رامنځته کولو څخه پرته بل څه نشي بلل کېدای.

**درییم:** د سولې په اړه د روانو خبرو پر وړاندې یوه بله ننګونه، د سولې د احتمالي توافق را وروسته د لنډ مهاله حکومت بحث او له هغه وروسته د راتلونکي حکومت د ډول بحث هغه ننګونه ده، چې ښايي د سولې احتمالي توافق به وننګوي. ځکه طالبان تل د اسلامي امارت غوښتنه کوي او د افغان حکومت دننه بیا ځینې کړی، ولسواک نظام او ځینې نور بدلونونه خپلې لاسته راوړنې بولې او نه غواړي چې دغه "لاسته‌راوړنې" له لاسه ورکړي. که څه هم، هغه څوک چې د لاسته راوړنو تر نوم لاندې د سولې بهیر ننګوي، هغوی نېغ په نېغه د اوسني خونړي وضعیت غوښتونکي دي او اړتیا ده چې د دغسې کړیو پرضد غږ اوچت شي. پای

# نگاهی به اختلافات داخلی در دورۀ رئیس جمهور غنی



اشرف غنی در پی انتخاباتی به کرسی ریاست جمهوری افغانستان رسید که در تاریخ افغانستان یکی از نفس‌گیرترین و جنجالی ترین انتخابات ریاست جمهوری خوانده می‌شود. در این انتخابات ـ که در سال ۲۰۱۴م برگزار شد ـ اختلافات به جایی رسید که بالآخره با میانجگری جان کیری، وزیر خارجۀ پیشین امریکا میان تیم‌های انتخاباتی عبدالله عبدالله و اشرف غنی بر اساس یک توافق سیاسی، حکومت وحدت ملی به میان آمد.

حکومت وحدت ملی از همان آغاز کار خود درگیر اختلافات داخلی بود. این اختلافات سال به سال شدت گرفت و عرصه‌های مختلف در کشور را نیز متأثیر ساخت. از این‌رو، اختلافات داخلی حکومت در این دوره، کشور را با خطر بی‌ثباتی سیاسی نیز مواجه کرده بود.

چگونگی آغاز اختلافات داخلی، اختلافات میان سران حکومت وحدت ملی، اختلافات حکومت و پارلمان و اینکه عوامل عمدۀ اختلافات داخلی در دورۀ رئیس جمهور غنی چه بوده؟ از مواردی اند که در این تحلیل روی آن بحث صورت گرفته است.

## اختلافات سران حکومت وحدت ملی

اختلافات داخلی در تمام کشورهای جهان یک امر طبیعی است؛ اما در افغانستان بخصوص در دورۀ ریاست جمهوری اشرف غنی که نامبرده در رأس یک حکومت ائتلافی (حکومت وحدت ملی) قرار داشت، این قضیۀ به اندازۀ برجسته بود که در برخی موارد کشور را با خطر بی‌ثباتی سیاسی مواجه کرده بود.

نسخۀ حکومت وحدت ملی که قدرت را به شکل ۵۰-۵۰ میان تیم‌های داکتر عبدالله و اشرف غنی تقسیم نمود، خود فراهم کنندۀ زمینۀ آغاز اختلافات داخلی میان سیاستمداران افغان بود؛ چون حکومت وحدت ملی خلاف قانون اساسی افغانستان بر اساس یک توافق سیاسی به میان آمد و نیز از همان آغاز کار اش، انتقادهایی در مورد تشکیل این حکومت وجود داشت.

در اوایل، تیم‌های عبدالله و غنی با هم اختلافاتی داشتند و بعدها هر دو تیم در داخل نیز با اختلافاتی درونی مواجه شدند. سران حکومت وحدت ملی در آغاز بر سر حکومت‌سازی و تقسیم قدرت، بعدها در رابطه به معرفی وزرای کابینه و همچنان سایر مقام‌های بلند رتبۀ دولتی بخصوص سفیران، با هم اختلافات زیادی داشتند. این اختلافات زمانی هم به حدی رسید که رئیس اجرائیه اعتراضات آشکاری به رئیس‌جمهور، عملکرد دو سالۀ او و عملی نکردن تعهدات مندرج در توافق‌نامۀ سیاسی تشکیل حکومت وحدت ملی، اظهار کرد.

با در نظر داشت همین اختلافات، در سال نخست حکومت وحدت ملی برخی از مقام‌های بلند رتبۀ دولتی کارکرد حکومت را مورد انتقاد قرار می‌دادند و یا هم از مقام‌های خود کنار می‌رفتند. از این جمله می‌توان از کنار رفتن جیلانی پوپل، رئیس ادارۀ مستقل ارگان‌های محل، رحمت الله نبیل، رئیس امنیت ملی افغانستان، نورالحق علومی، وزیر داخله، یوسف نورستانی، رئیس کمیسیون مستقل انتخابات، داود شاه صبا، وزیر معادن و پترولیم، میرزا خان رحیمی، والی هلمند، عمر ساپی، والی کندز و برخی مقام‌های دیگر یاد کرد.

از سویی هم، اختلافات و تنش‌ها میان رئیس جمهور غنی و معاون نخست اش موجی دیگری از اختلافات عمیق داخلی بود. در اوایل سال ۱۳۹۵ هـ ش جنرال دوستم از رئیس جمهور غنی به شدت انتقاد کرد که گویا به او سهم کافی در حکومتداری را نداده است. وی حتی رئیس جمهور را به قوم‌گرایی متهم کرد و اظهار داشت که تا اکنون صلاحیت معاونیت نخست برایش داده نشده است.

در جریان همین اختلافات، قضیۀ احمد ایشچی به میان آمد و اختلافات موجود را چند برابر بیشتر ساخت. جنرال دوستم که در قضیه احمد ایشچی متهم به آزار و اذیت جنسی وی بود، با حزب جمعیت و حزب وحدت در شهر انقرۀ ترکیه ایتلافی تحت نام "نجات افغانستان" را تشکیل داد. این ایتلاف بعد از آن رو به تضعیف شد که از آمدن دوستم به افغانستان ممانعت گردید و طیارۀ وی اجازۀ نشست در میدان هوایی ولایت بلخ دریافت نکرد. اما چندی بعد زمانیکه یکی از قوماندان‌های جنرال دوستم در شمال کشور دستیگر شد و مردم چندین روز در برخی ولایات شمال کشور تظاهرات گستردۀ انجام دادند، دوستم دوباره به کشور برگشت.

علاوه از اختلافات دوستم با رئیس جمهور، برخی مقام‌های محلی دولت نیز با حکومت مرکزی در تقابل قرار داشتند. در این میان عطا محمد نور والی پیشین بلخ یکی از مقام‌های محلی بود که از مقام ولایت بلخ کنار نمی‌رفت و خود را سهم‌دار حکومت وحدت ملی میدانست که بالاخره بعد از مذاکرات زیادی با ارگ، بر اساس برخی توافقات از کرسی مقام ولایت بلخ کنار رفت.

در کل، در طول بیش از چهار سال عمر حکومت وحدت ملی، اختلافات داخلی میان مقام‌های حکومت همواره به شدت وجود داشته است که معمولا پس از مدتی به میانجگری افراد داخلی و مقام‌های کشورهای خارجی، تا حدی حل و فصل گردیده است.

## اختلافات ولسی جرگه با حکومت

در دورۀ رئیس جمهور غنی بخش دیگری از اخلافات داخلی، تقابل قوۀ مقننه و قوۀ اجرائیه بود. در این میان ادامۀ کار سرپرست وزیران در کابینۀ حکومت وحدت ملی یکی از مواردی مهمی اختلافات میان حکومت و ولسی جرگۀ افغانستان بود. چون ولسی جرگه بارها از حکومت خواست تا به کار سرپرست وزیران پایان دهد و نامزد وزیران جدیدی را برای گرفتن رای اعتماد به این مجلس معرفی نماید؛ اما این کار در اوایل ماه‌ها طول کشید تا حکومت وزرای جدیدی به ولسی جرگه معرفی نمود و ولسی جرگه نیز به یازده تن از آن‌ها رای اعتماد داد، ولی برخی از آنها با گذشت بیش از چهار سال هنوز هم به حیث سرپرست ایفای وظیفه می‌نمایند.

موضوع دیگری که باعث اختلافات شدید حکومت و ولسی جرگه و نیز میان اعضای این جرگه شده بود، مسئلۀ خواست تدویر لویه جرگه و تعدیل قانون اساسی بود. علاوه بر این، توزیع و چگونگی تذکره‌های الکترونیکی نیز قضیۀ جنجالی دیگری بود. ولسی جرگه فرمان رئیس جمهور را در این رابطه رد کرد، اما مشرانو جرگه آن راتایید کرد که بالآخره از سوی کمیسیون مشترک هر دو مجلس شورای ملی، رای تایید گرفت.

این اختلافات زمانی هم به حدی رسید که برخی اعضای برجستهٔ ولسی جرگه به گونهٔ مطلق راه تقابل با حکومت را در پیش گرفتند و در ایتلافات‌های ضد حکومتی همواره کارکرد حکومت وحدت ملی را مورد انتقاد قرار می‌دادند.

## عوامل عمدهٔ اختلافات داخلی

- **تشکیل حکومت ائتلافی:** حکومت وحدت ملی در پی جنجال‌های انتخاباتی بر بنیاد یک توافق سیاسی میان دو تیم انتخاباتی ـ که ساختارهای تشکیلاتی هر تیم نیز بنیاد منافع شخصی و شکل غیر طبیعی داشت ـ به میان آمد. به همین دلیل زمانی که منافع هر جانب در خطر بود، همان جانب با جانب دیگر مخالفت می‌کرد و این اختلافات بالآخره در داخل هر تیم نیز سر بلند نمود که در این مورد از اختلاف میان عطا محمد نور و عبدالله عبدالله یاد کرده می‌توانیم.
- **تقابل منافع شخصی:** یکی از عوامل موجودیت اختلافات داخلی در حکومت وحدت ملی یا دورهٔ رئیس جمهور غنی، تقابل منافع شخصی مقامات حکومتی بوده است. اختلافات میان مقام‌های بلند رتبهٔ دولتی زمانی به میان می‌آمد که منافع شخصی شان در تقابل هم دیگر قرار می‌گرفت. در بسیاری موارد اشخاصی که در کرسی حکومت قرار داشت هیچ چیزی برای گفتن بر ضد حکومت نداشتند؛ اما زمانیکه از مقام خویش کنار می‌رفتند، بر ضد حکومت موضع‌گیری می‌نمودند، کارکرد نظام را نقد می‌کردند و بالآخره یا به رهبری خود موجودیت یک ایتلاف سیاسی را اعلام می‌کرد و یا هم در یکی از ایتلاف‌های سیاسی ضد حکومت قرار می‌گرفتند.
- **عملی نکردن تعهدات؛** یکی از عوامل اساسی و عمدهٔ اختلافات داخلی در دورهٔ رئیس جمهور غنی، عدم عملی شدن تعهداتی بود که بارها بر عملی شدن آن تأکید صورت گرفته است. در اوایل، بخصوص در زمان کمپاین‌های انتخاباتی هر دو تیم با اعضای خود تعهداتی انجام داده بود که بدلیل عدم عملی شدن آن با اختلافات درونی مواجه شدند. در قدم دوم عملی نشدن تعهداتی که در توافقنامهٔ حکومت وحدت ملی میان دو تیم جابجا شده بود، یکی دیگر از عوامل اساسی اختلافات و عدم موجودیت اعتماد میان هر دو جانب بود.

با این همه باید گفت، در دورۀ ریاست جمهوری اشرف غنی موجودیت اختلافات میان سیاستمداران یا مقام های دولتی حکومت که در برخی موارد یکدیگر را به قوم‌گرایی متهم نمودند، بر ذهنیت مردم عام نیز تاثیر گذار بودند. در طول بیش از چهار سال گذشته مردم افغانستان بدلیل برخی موضوعات (تذکره‌های الکترونیکی، تدویر لویه جرگه و قضیۀ تعدیل قانون اساسی...) که مقام‌های حکومت وحدت ملی نیز در رابطه به آن اختلاف نظر داشتند، بر اساس قوم و سمت در مقابل همدیگر قرار گرفتند، تعصب و تبعیض بیشتر شد و فاصله میان مردم روز به روز افزایش یافت.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارۀ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com